مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوالان: ډاکتر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکتر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۱۸

# لويه تلوسه

شپږ ویشتمه برخه

## د اوبو بين المللی قوانين

**دوهمه برخه**

**دويم فصل**

**ترکمنستان سره په منځمهاله کې د اوبو ډیپلماسي:**

سرحدي سیندونو په باب ترکمنستان سره زموږ منځمهاله ډیپلماسي به ترکمنستان له لارې اترک او آمو دریا څخه اوبو د لیږدوني احتمال په محور راوڅرخیږي.اترک په باب زموږ کورنی سیاست باید د دغه سیند او د هغه د سرښاخونو د اوبو کنټرول پر بنیاد وي.

دامهال په رضوي خراسان کې تبارک بند او په شمالي خراسان کې د شیروان ( ۳۰ ملیونو مترمکعب په ظرفیت) او شورک او د شیرین درې(۶۰ ملیون مترمکعب په ظرفیت) بندونه جوړ شوي دي. کورني سیاست له مخې کتل کیږي چې د قوردانلو، دربند، پوستین دوز او،،، بندونه د اترک او د هغه د سرښاخونو پر مخ وتړل شي.کولای شو ان د مراوه تپه په محدوده کې او د اړتیا په صورت کې یو بند د اینچه سفلی په محدوده کې جوړ کړو.

د گلستان ولایت کتې ایجابوي چې دغو طرحو سره مخالفت وکړي خو ملي منافع دا ایجابوي چې دغه بندونه جوړ شي. ملي کتې نباید د سیمه ییزو او ولایتي کتو قرباني شي.

کولای شو گلستان ولایت ته له دغوبندونو د حقابې په عنوان تنظیم شوي اوبه په پام کې ونیسو. ان د دې وړاندیز کیږي چې دغه تنظیم شوې اوبه چې کېدی شي له مراوه تپه څخه څو کیلومتره وروسته په اترک رود کې خوشې شي له هغه ځایه د یوه انحرافی بند له لارې د اترک کیڼ ساحل پر لور یانې په ترکمن صحرا کښې د ننه منحرفې شي. یاني د رود اوبه له اوسني مسیره لیرې شي او د یوه کانال له لارې ترکمن دشتې ته واردې شي او ترکمن دشتې تر گنبد پورې خړوبې کړي.

هغه اوبه چې چاټ ته رسیږي باید د چاپیریالی ژوند د اړتیاو رفع کولو په حد کې وي او د دغه کار په هغو سیلابونو چې غیر قابل کنټرول دي تامینږي. که په دې لړ کې چاته کومه خساره رسیږي کولای شو هغه د خسارې په ورکولو سره او یا چې وړاندیز شوی اوبه رسوونکی کانال په محدوده کې چې هغوی ته اوبه رسوي د نوي ځمکې په سپارلو (ورکولو)، جبران کړو. سربیره پردې د ترکمن دشتی وروستی برخه داسې هواره ده چې وړاندیز شوي کانال له طریقه کولای شو په ثقلي توگه هغې ته اوبه ورسوو. د قوردانلو شیرین درې بندونه که څه هم لوړوالي نظره له شیروان قاروچ دشتي څخه څو سوه متره ښکته واقع شوي دي کیدای شي ۳۰ – ۲۵ راټلونکو کلونو په لورلید کې د دغو دښتو د ښارونو او کلیو د څښاک اوبه چمتو کړي. همدا اوس د شیرین درې، بجنورد اوبو د لیږدوني کربښه د پمپاژ په مرسته تر کار لاندې ده. که چیرې د جمعیت د زیاتوالی وضعه او د یادو دښتو صنعتي کېدنه په اوسني ترتیب دوام ومومي په ۳۰ – ۲۵ راټلونکو کلونو کې قوردانلو بند یا حتی شیرین درې څخه د څښاک او صنعت اوبو لیږدوني کربښه، شیروان او قاروچ ته او په بیرنی صورت کې مشهد ته لازمه گڼل کیږي.

په یوه شل کلن لید لوري کې شمالی **خراسان کولای شي د مشهد ښار څښاک اوبه او د مشهد دشتي د کليو اوبه تامين کړي .** کولای شو د مشهد اړتيا وړ اوبو یوه برخه د شمالی خراسان له اوبو څخه تامین کړو. یاني د اترک اوبه چې په طبیعي توگه گلستان ولایت پر لورې جارې دي هغه مشهد پر لور پمپ کړو. مشهد ته په شمالی خراسان کې له موجودو او تر کار لاندې بندونو څخه د اوبو د لیږدوني مطالعات په نامنظمه توگه مخکې تر سره شوي دي باید دغه مطالعات بشپړ شي. ډاډمن یو چې دغه سناریو به یوه ورځ په جدي توگه تعقیب شي او ډېر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

احتمال لري چي عملي به شي .البته چي شمالي خراسان او د ګلستان ولایت پخپله د اوبو له کمښت سره مخامخ دی.خو که د اوبو د لګښت اوسنی بهیر اصلاح نه کړو د ځښلو اوبه یا د ښارونو سیاسي اوبه تامینول به د کرنیزو اوبو مهمه برخه ځان ته ځانګړی کوي. کرکیله د ایران په ډېرو ځایونو کي دوه لارې پر سر ولاړه ده. یا باید په لګښت کي په سپما کولو سره، د ښارونو او کلیو د څښاک اوبه تامین کړي او یا د اوسنی لارې په دوام سره هم ښارونه ستونځي سره مخامخ کړي او هم کرهنه نیمه تعطیل کړي.

**باید پاملرنه وشي چي له ۱۳۸۰ لسیزی راهیسي په ایران کي د اوبو ستونځه فني ستونځه نه ده. د** فني مسایلو په برخه کي څه د بندجوړوني په چارو کي څه د شبکي او پمپولو په چارو کي ایران نه یوازی په ځان بسیا دَی بلکي د فني پوهي د صادرولو په حال کي دَی. که مونږ فني ستونځه ولرو هغه د فاضلابو چانولو او د ستندردشویو چانیزو اوبو ترلاسه کولو په کار کي دي. البته د باکیفیته تجهیزاتو رغوني په برخه کي لکه د اوبو لوی اوزار او د اوبو ویستلو او قدرتمنو پمپ ماشینونو په برخه کي لا هم ستونزه لرو. خو د بندونو په جوړونه کي حتی د کارون لوی بند په څېر چي د نړی له لویو بندونو څخه شمیرل کېږي، تقریباً سل په سلو کي د ایران لخوا جوړ شوي دي.

**لدي کبله د ایران د اوبو ستونځه اساسي توګه مدیریتي( په ځانګړې توګه د ګټي اخیستو مدیریت) اقتصادي، ټولنیزه او حقوقي ده. حتی د اوبو په چارو کي د سیاستوالو بیځایه لاسوهني، مدیریتي او فرهنګي مرانديْ او ریښي لري..**

نو ملي ګټي ایجابوي چي هغه اوبه چي اترک له لارې د ایران او ترکمنستان د ګډي پولي پر لور جاري دي سرحدي محدودې ته له رسیدو مخکي کنترول او حتی د ګلستان ولایت اوبو برخه د هغه کانال په وسیله چي له پولي لېرې کېږي هغه ولایت ته هدایت کړو.

ترکمنستان همدا اوس د اَرال حوضي د رودونو کابو ۲۲ ملیارد مترمکعب اوبه ترلاسه کوي، هغه رودونه چي د هغوی سرچینه په اصولي او طبیعي توګه ترکمنستان پورې تړاو نلري.. د پولي اوبو کنټرولول کومه نوې ښکارنده یا کوم نوی کار نه دی د نړی په ډېرو ځایونو کي له هغي ډلي په همدې ترکمنستان کي دغه کار پېښ شوَی دَی. یقیني خبره ده چي په دې ډول اقداماتو کي کېدی شي په ځانګړي ډول هغه برخه چي د پولي اوبه کنټرولېږي د مقابل لوري پرې اعتراض وي. خو باید ده چي د اوبو ډیپلماسي پر دغو ستونزو بریالیتوب ترلاسه کړي. په راتلونکي کي به اوبه ډېر لوړبیه کالَي وي.

د اترک سرځانګو د اوبو کنټرول بشپړول، ترکمن صحرا پر لور د جاري اوبو اړول باید په یوه ۱۵ – ۱۰ کلن منځ مهال سیاست کي ولتوو. له دې امله دې کار سره اړوند ډیپلماسي یاني ترکمنو سره خبرې اترې، نویو تړونونو او هوکړو ته رسیدل او په مخکینیو هوکړو بیاکتنه (۱۹۲۶ – ۱۹۲۱ ) لازمي دي. ترکمنستان سره د اوبو منځمهاله ډیپلماسي باید د نویو هوکړو په بنیاد ولاړه وي.

سمه ده که چیری مخزني بندونه او انحرافي بندونه پولي څخه لېرې پرتو سیمو کي او په تېره بیا په سرښاخونو کي وي په اصولي توګه حقوقي لحاظه ترکمنستان نشي کولَی کوم اعتراض وکړي. د ۱۹۲۱ میلادی تړون د ۱۶ مادې له مخي اترک رود د پاسه نباید د اوبو ساختماني تاسیسات جوړ شي. او د سرښاخونو په تړاو کوم محدودیت نه ده لیکل شوَی. البته دا هغه سپړنه – تفسیر دَی چي مونږ یې کوو. خو که چیری ډیپلماسي فعاله نه وي دغه چارې کېدَی شي د دواړو هیوادونو ترمنځ د ښه ګاونډیتوب او د پراخو همکاریو په اړیکو کي خنډونه رامنځ ته کړي.

ترکمنو سره زمونږ منځمهاله ډیپلماسي باید د اوبو ساتني او د دوه اړخیزو ښو اړیکو د ساتني پر محور راوڅرخیږي. دا چي د ترکمنانو( ترکمنو) د غوښتني په بدل کي څه ورکوو، دا کار په ډیپلماتیک ظرفیت پورې تړاو مومي.. باید زیار وکاږو اوبه ور نه کړو. ان که د اوبو په بدل کي ترکمنو سره د کالیو او ګازو لیږدوني د نل لیکي په ترانزیټ کي مرسته او مهرباني هم وکړو ستونځه نه لري. البته د هغو بندونو او تاسیساتو ترشا زیرمه شوي اوبه چي په ترکمنستان کي د اترک او کوشنیو رودونو په سرښاخونو کي پای مومي کېدَی شي پخپله د راکړې ورکړې (مبادلي) کالي واوسي. کېدَی شي د ایجابي سیاستونو په واک کی سلبي اوزار واوسي. دغه مبادله هم باید اوبه د اوبو په بدل کي وي. د کوشنیو رودونو د اوبو راکړه ورکړه چي له ایران سرچینه اخلي د زیاتي کچي اوبو د ترانزیټ حق په مقابل کي وي.

که ټاکل شوي وي مونږ هغه اوبو لپاره چي سرحدي اترک ته رسیږي ترکمنانو سره کوم ګډ بند ورغوو باید ډیپلماتیکي هڅي هغه شاني وي چي مونږ له ٪۵۰ زیاته ونده ولرو. څکه چي د اترک حوضي لویه برخه د ایران په خاوره کي پرته ده. د اترک اوبو کنټرولو لپاره زمونږ د ملي امنیت بحث په اوږدمهاله کي مطرح کېدی شي. لدې امله اقتصادي سپما اصلاً مهمه نده.

| |
|---|
| خوړې اوبه به په یوه پنځوس کلن لیدلوري کي حتی له هغه هم په کمه موده کي، په ایران کي په ځانګړي توګه د ایران په ختیځ او مرکز او په ټوله منځنَی آسیا کي، تر ټولو لوړبیه کالي وي. هر څوک چي د اوبو خاوند وي په سیمه کي د قدرت خاوند دَی. |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د اوبو حتی یوې یو لېتره چیني لپاره هم باید پلان ولرو. هغه رودونه خو بیا بیله خبره ده چې په هره ثانیه کې پې د سیلاونو اوبه ۵۰۰ متر مکعبو ته رسیږي . ښایي ځیني بندونه چې د اترک د سرښاخونو د پاسه جوړوو اصلاً اقتصادي ګټه ونلري. حتی شیروان کې د شورک بند په څېر یو بند په ځینو کلونو کې اوبه نه لري. خو په راتلونکي کې به پې اوبه هغه کالي وي چې که چیرې هر څو کلونو کې یو وار هم یو بند له اوبو ډک شي خپل اقتصاد (ګټه-وټه) به بشپړ کړي .

هغه کسان چې بندجوړولو سره پې روغه نه ده باید پام پې وي هغه بندونه چې د سرحدي رودونو اوبه کنټرولوي یاني د ملي امنیت، خوراکي امنیت د څښاک د اوبو امنیت. همدې کبله د څلورمي برنامې د ۱۷ مادې د «د» بند (فقرې) له مخې او د دولت د پنځمي برنامې د ۱۴۰ مادې د «ه» بند له مخې دولت مکلف دَی سنواتي (دکلنیو-هرکلني) بودیجې په چوکاټ کې لازم اعتبارات، له پولیزو سیندونو او د اوبو له ګډو سرچینو څخه د هیواد له اوبو برخې څخه د ګټې اخیستو او د استحصال، تنظیم، لیږدونې د طرحو په اجراکولو کې د چټکتیا په موخه منظور کړي. پر دې سربیره همدغه بندونه او د هغوی اوبه ، د مبادلې او په بیلابیلو برخو کې د مذاکرو د پرمخ وړلو له دې ډلې د اوبو رانیولو او ترانزیټ لپاره، د ډیپلماټانو لاسي اوزار دي.. **اوبه د اوبو د ترانزیت په بدل کې.** مونږ باید حتی د نفتو او غازو، یورانیوم او نورو معدني سرچینو په بدل کې هم اوبه ورنکړو. له دغو شیانو پرته کولای شو ژوند وکړو خو بې اوبو ژوند نشته. په دې اساس اقتصادي محاسبې او حتی د ژوند چاپیریال ځیني ملاحظات ملي امنیت پر وړاندې پاتې راځي. خو دغه خبره د دې مانا نه لري چې بېځایه لګښت وکړو یا د ژوند چاپیریال په فکر کې و نه اوسو. باید د اوبو اقتصادي سیما او د ژوند چاپیریال ساتنې لپاره حلالرې او وړاندیزونه وړاندې کړو چې د ملي امنیت ساتنې لپاره وي. د دې کار لپاره یوه ډېره غوره لار د ځمکې پرمخ او دځمکلاندی کاسو اوبو مدیریت او د ځمکې لاندې اوبو د زیرمو ځواکمنول دي. که نن باید د سطحي اوبو مهارولو لپاره دغه شان پول پیسې ولګوو هغه ځکه چې دځمکلاندې اوبو په لګولو کې مو د دشتو تعادل رعایت نه دی کړی چې خپل ځای کې به دې موضوع ته راوګرځو.

**ترکمنستان سره پهاوړدمهاله کې د اوبو ډیپلماسي:**

لکه څنګه چې مو وویل مونږ ترکمنستان سره، له بهر څخه د اوبو تامینولو په اوږدمهاله ډیپلماسی کې له دغه هیواد سره ځانګړو اړیکو ته اړتیا لرو. د هریرود اوبو څخه ګډې ګټې اخېستو او افغانستان سره هوکړې ته رسیدو او هریرود حوضې پراختیا لپاره ترکمنستان سره همکارۍ ته اړتیا لرو. په دریم پړاو کې یانې د هیواد ختیځ لپاره د اوبو برابرولو په اوږدمهاله ډیپلماسی کې ترکمنستان باید زمونږ متحد وي. په دې مرحله کې ترکمنستان کولای شي د یوه واسط او رابط هیواد په توګه مونږ ته اوبه ترانزیټ کړي. بله چاره دا دی چې ترکمنستان د خپلو اوبو ونډې یوه برخه قراقوم (آمودریا) څخه پر مونږ وپلوري. ترکمنستان سره په اوږدمهاله کې د اوبو ډیپلماسي کیدای شي پخپله څلور لیدلورې ولري:

۱ لیدلوری: د هریرود حوضې په مشارکتي پراختیا کې همکاري:
- افغانستان او ترکمنستان سره هریرود حوضې څخه ګټې اخېستو ـ ساتنې مشارکتي ساتنې او پراختیا لپاره هوکړې ته رسیدنه باید زمونږ د منځمهاله او اوږدمهاله برنامو برخه وي. دغه برخه هریرود سره په اړوند برخه کې په تفصیل عنوان شوې ده.

۲ لورلید- د آمو دریا حتی سیر دریا له اوبو ګټه ترلاسه کول:
دغه همکاریګانی د آمو دریا او سیر دریا حوضو هیوادونو سره اړوند اوبو د ډیپلماسی په برخه کې توضیح شوې دي.

۳ لورلید ـ ولګا ، اُب او د هغې له څانګې ایرتش او د روسیې سایبیریا له نورو رودونو څخه ګټه پورته کول :
دغه همکاریګانې د ولګا ، اُب او.... حوضې سره اړوند هیوادونو اوبو د ډیپلماسی په برخه توضیح شوې دي .

۴ لورلید –ـ د ترکمنستان له ۲۲ ملیارده مترمکعب له اوبو ونډې د یوې برخې پیرودل او ایران ته لېږدونه: ترکمنستان د منځنې آسیا له اوبو په تېره بیا آمو دریا څخه کابو ۲۲ ملیارده مترمکعب معادل اوبو ونډه لري. ترکمنستان له دغو اوبو څخه د کرنې او د قره قوم کانال د مسیر سیمو څښاک لپاره کار اخلي. ترکمن کولای شي له دغو اوبو څخه تر څلور ملیارده متر مکعبو پورې د لاندې طریقو په کارولو سره سپما وکړي.

۱/۱. کرنیزې بیلګې د ابو په کم لګښته بیلګو بدلول
۲/۱ . د اوبونې د طریقو مادرن کول
۱ . ۳. تبخیر څخه مخنیوي لپاره د نویو طریقو موندل
۱ . ۴ . تولنیزې – ګټې اخېستو په شرایطو کې ځیني ساختاري تغییرات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۱ . ۵ . د اوبو د نرخ زياتول
۲ . د کر کيلی (د کرلو ساحی) د کچي راټيټول : ترکمن سپما کولو سره د اړوند کارونو له ترسره کولو پرته، د خپلی کرکېلي کچه راښکته کړي او اوبه پر مونږ وپلوري.

۳ – ترکمنو سره د مجازی اوبو واردولو لپاره مذاکرو کي ورګډ شو ياني د روسېي د صنايعو لپاره د مالوچو د کرکيلي پر ځای زمونږ اړتيا وړ د قندو چغندر او محصولات وکړي. او محصولات پر مونږ وپلوري. نو داچي اوس مونږ د دغي پيرېدني په وړاندي څه ورکوو بايد د مذاکرې په ميز ښکاره شي. مونږ تر ټولو لوړ کوم کالي چي لرو څو بې پدې برخه کي وړاندي کړو هغه د ترانزيټ حق دی. د ريلګاډي، جاده يي او د نلليکو ټرانزيټ دی. مونږ هم د دي مجازي اوبو واردولو په مقابل کي د خپلو بحراني دشتو د اوبو د ځاګانو محدودولو او تعطيلولو لپاره تدبيرونه (لاری چاری) نيولای شو.

ترکمنستان سره د اوبو د ډيپلماسی لنډيز:
۱ ـ اوړدمهاله برنامه: په نه چندان لېرې راتلونکي کي به ترکمنستان ايران لپاره د اوبو د ترانزيټ يو لوی هيواد وي. په يوه ۲۵ کلن لورليد کي، ترکمنستان آمو دريا او د سايبريا او ولګا اوبو ته د رسيدني مسير دی. ترکمنستان سره د اوبو لنډ مهاله هر ډول ډيپلماسي بايد اوږدمهال ليد لوری هم په پام کي وساتي.
۲ ـ منځ مهاله ډيپلماسي
۲ ـ ۱ ـ په منځمهال کي بايد قانون له مخي د اترک او د هغه د سرشاخونو څلورمه او پنځمه برنامه کنترول کړو. لدې چي د روسېي او بيا وروسته د شوروي پر مهال مو اترک لپاره تفاهم ليک درلود بايد داسی چوکاټ کي حرکت وکړو چي ترکمنستان سره زمونږ اړيکي نيکي پاتي شي.
۲ ـ ۲ په لنډمهاله او اوږدمهاله کی بايد ترکمنستان وهڅوو د هريرود حوضي په ټېکاومنه سيمه ييزی مشارکتي پراختيا کي مونږ او افغانستان سره همکاري وکړی.
۳ ـ لنډمهاله برنامه: په همدې موده کي بايد د ټولو کوشنيو رودخانو اوبه چي شمالی خراسان څخه سرچينه اخلي او ترکمنستان ته توييږي کنټرول کړو. همدي حال کي بايد زمونږ ډيپلماسی بايد هغه شاني وي چي منځمهاله او اوږدمهاله سياستونو ته زيان و نه اړوي

نور بيا

**سرحدي سيندونو لپاره د وړانديزونو ډلبندي / ټولبندي**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په څير و لولئ